# د خوشحال بابا د قېد و بندموده د تحقیق په رڼا کښې

# Imprisonment Period of Khushal Khan Khattak in the Light of Research

Dr Noor-ul-Basar*

**Abstract**

Khushal Khan Khattak had been a multi dynamic personality in the Pashto literature. Literary contribution during imprisonment is one his dynamism. He had penned many novel creations in the field of Pashto literature even during imprisonment. The literary work done by him, is the reflection of society and politics of the time. The question arises; how long he remained in prison? To answer this question I did a thorough study concerning his imprisonment. This paper is an attempt to give a detail account to khushal khan's contributions while he was in jail.

د پښتو په ادیبانو شاعرانو کښې خوشحال بابا ته په ډېرو خوبو او حوالو ځانګړې مقام حاصل دے ،په دغه ځانګړنو کښې یوه دا هم ده چې خوشحال بابا هغه وړومبے ادیب او شاعر دے چې په باقاعده توګه په زندان کښې اچولے شوے دے۔ خوشحال بابا په قېدوبند او نظربندۍ کښې څومره وخت تېر کړے دے؟ دا یو سوال دې چې د خوشحال بابا د مطالعې او په هغه د څېړنې په وخت راچوتېږي ،ما چې د دې سوال د جواب لټولو د پاره کومه

* Assistant Professor Pushto Department University of Malakand

مطالعه او څېړنه کړې ده او کوم حقائق تر لاسه شوې دي په هغې د بحث نه پس که په مکمه نه وي نو تر ډېره حده حقیقت ته نژدې تنیجه تر لاسه شوې ده.

دخوشحال بابا د ګرفتارۍ او قېدوبند په حواله مونږ په قیاسیاتو نه شو تېروتلې ځکه چې زمونږ سره بنیادي ماخذونه د خوشحال بابا په نظم او نثر کښې خپل لیک ،د هغه د کورنۍ لیکونه او بیا په ثانوي ماخذونو کښې د هغه وخت تاریخي لیکونه ټول حقیتونه مونږ ته په ډاګه کوي.

د خوشحال بابا نه پس ډېر زر چې کوم کتاب لیکلې شوې دے هغه تاریخ مرصع دے چې په دې حواله د ډېر اهمیت وړ دے. یو خو په دې کښې د خوشحابابا د بیاض څه حصې او نمونې مخفوظ شوي دي بله دا چې د کتاب لیکوال نه صرف د خوشحال بابا د کورنۍ دے بلکې داسې نمسې یې دے چې په تربیت کښې یې د بابا ډېر لاس دے په دې کتاب کښې افضل خان خټک لیکي چې:

> "خان علین مکان چې امیر خان قېد کړ د بادشاه په حضور یې راستولے وۀ څو مدت د رنتهمبور په ګړۍ کښې محبوس وۀ لکه دا قطعه یې په دا باب وئیلې ده:
>
> په وسط د ځلورمې خور په بند شوم
> په رجب د بل کال وختم په ګر
> په پنځم د ذوالقعدې له ګړې کوز شوم
> دوه کالونه پنځه میاشتې شې د تر
> بنۀ تاریخ د استخلاص راله راغے
> لاړ په کوزه د سید میر د مور لپر"[۱]

"دغه پورتنۍ قطعه په مونږ دا انکشافات کوي:

١. خوشحال بابا د څلورمې خور يعنې د جماد الثاني په مياشت بندي شوے ؤ.

٢. د بل کال ۱۰۷۵ھ/۱۶۶۵ء د رجب په وسط / فروري ۱۶۶۵ء په ګړ (کوټ رنتهنبور) کښې محبوس ؤ.

٣. پـه ۵ ذي القعـده ۱۰۷۲ھ ق / ۹ مئـی ۱۶۶۲ء لـه ګـړې (رنتهنبور کوټ) نه رها شوے ؤ. لکه چې د افضل خان د وينا څرګنده ده.

٤. خوشحال بابا دوه کاله او -پنځه مياشتې قيد ؤ.

٥. د قطعې د اخري مصرعې نه د استخصلاص (رهايۍ) کال تاريخي ماده راووځي يعنې ۱۰۷۲ھ/۱۶۶۲ء.

د خپلې قطعې په وروستۍ مصرعه کښې کۀ خوشحال بابا يو خوا د ابجدو په حساب د خپلې رهايۍ تاريخ وئيلے دے نو بل طرف ته يې په سيد مير په ډېرو سختو الفاظو کښې بد رد وئيلي دي. بلکې ښکاره کنځل يې ورته کړي دي".[٢]

"اگر ہم گرفتاری کی تاریخ اڑھائی سال پہلے ۱۵ جمادالثانی ۱۰۷۴ھ فرض کریں تو اس تاریخ سے رہائی (۵ ذیالقعدہ ۱۰۷۶ھ اوائل مئی ۱۶۶۶ء) تک سارا عرصہ قمری حساب سے دو سال چار مہینے اور بیس دن ہوتا ہے"[٣]

ژباړه: کۀ چرې مونږ د (خوشحال بابا) د ګرفتارۍ نېټه يونيم کال مخکښې په ۱۵ جمادالثـاني ۱۰۷۴ھ فـرض کـړو. نـو د دې تـاريخ نـه تـر آزاد ېدو (۵ ذي القعده ۱۰۷۴ھ اول د مئی ۱۶۶۶ء) پورې په قمري حساب سره دوه کاله څلور مياشتې او شل ورځې جوړېږي-

د دې قېد نه مطلب د خوشحال بابا هغه پوخ قېد دے چې دهٔ کوم په دهلي او رنتهمبور کښې تېر کړے دے ـ د دې نه علاوه خوشحال بابا د نظربندۍ ورځې شپې هم تېرې کړې دي اګرچې د قېد نه آزاد ؤ خو وطن ته د تلو پابندي وه پرې. په دې وجه دغه هم يو قسم د قېد په زمره کښې راځي ـ

کامل صېب د قېدوبند دغه وضاحت مخکښې داسې کوي:

"مندرجہ بالا قطعہ میں "گڑ" (گڑھ، قلعہ) سے مراد رنتھنور کا قلعہ ہے۔ معلوم ہوتا ہے وسط رمضان ۱۰۷۴ھ (اواسط اپریل ۱۶۶۴ء) سے رجب ۱۰۷۵ھ (جنوری – فروری ۱۶۶۵ء) تک خوشحال دہلی میں رہا۔ اور اسکے بعد رنتھبور بھیج دیا گیا۔ خوشحال خان کو رہائی کے بعد بھی ابھی مصیبت کے دن گزارنے تھے کیونکہ اسے وطن آنے نہیں دیا گیا۔ بلکہ ہندوستان ہی میں احتیاطاً روک لیا گیا تھا۔ اور اس نے ملازمت بادشاہی اختیار کر لی تھی۔ رجب ۱۰۷۷ھ (دسمبر جنوری ۶۷-۱۶۶۶ء) میں ہم اسے دھلی پاتے ہیں۔ غرہ رجب ۱۰۷۷ھ (دسمبر ۱۶۶۶ء) کو خوشحال خان گھوڑے پر سوار بازار میں جارہا تھا کہ گھوڑے سے گر پڑا اور ٹانگ میں چوٹ آنے سے صاحب فراش ہوا ۔ ۴ رجب (دسمبر) کو خوشحال خان نے ایک نظم لکھی جس میں اس حادثہ اور اپنی غریب الوطنی کا رونا رویا ہے"۔[4]

ژباړه: په دې بره ذکر شوې قطعه کښې "ګړ" (ګړهـ - قلعه) نه مطلب د رنتنبور قلعه ده. معلومېږي چې په مېنځ د روژې ۱۰۷۴هـ (د اپرېل په نيمائي ۱۶۶۴ء) نه د رجب ۱۰۷۵هـ (جنوري، فروي ۱۶۶۵ء) پورې خوشحال بابا په دهلي کښې ؤ. او د هغې نه پس يې رنتنبور ته ولېږو۔ خوشحال خان د آزادېدو نه پس هم د غم په ورځو شپو کښې ګېر ؤ. ولې چې وطن ته د راتلو اجازت ورته نهٔ ؤ. بلکې په هندوستان کښې يې د احتياط له رويه ايسار کړے ؤ. او د بادشاه

نوکري یې شروع کړې وه. په رجب ۱۰۷۷هـ (دسمبر، جنوري ۶۷-۱۶۶۶ء) کښې په دهلي کښې ؤ. په رجب ۱۰۷۷هـ (دسمبر ۱۶۶۶ء) خوشحال بابا په اس سور په بازار کښې روان ؤ چې د اس نه راغوزار شو او د پښې د خوګېدو په وجه ناروغه شوے ؤ. په ۴ رجب (دسمبر) باندې خوشحال بابا یو نظم لیکلے دے چې د دې پېښې او مسافرۍ فریاد یې پکښې کړے دے.

چې بهتر تر هر نعمت دے
کۀ نعمت دے روغ صورت دے
چې یې دا نعمت روزي وي
سر تر پایه عنایت دے
اس چې ورودرومې په لاړې
پرېواتۀ ځنې آفت دے
پښه مې هسې رنګ په درد شوه
چې تېرېږي یو ساعت دے
چې د سر بلا په پښو شوه
دا لاخېر خېریت دے
هند په ما باندې دوزخ شو
که په نور عالم جنت دے
بند دیوان ورله راغلم
دا یو څو میاشتې فرصت دے
هغه شان لکه بندي ووم
ترې مې لا بتر محنت دے
هره ورځ ورتلۀ دربار ته
ګوره دا څۀ مشقت دے
د بل حکم پرې زندان شي
چې په خپل حکم عادت دے

مـــــــا چـــــــې دا قصـــــــيده اووے
پـــــه دهلـــــي مـــــې اقامـــــت دے
ثلورمـــــــــــه د رجـــــــــب وه
زر اووۀ اويـــــــا هجـــــــرت دے
نـــــور ځـــــۀ مـــــۀ وايـــــه خوشـــحاله
کـــــه ځـــــۀ وائـــــې قباحـــــت دے[۵]

"بيا بادشاه خلاص کړ په دا آوان چې ۱۰۷۷هجري وه، په غره د رجب المرجب په وخت د نماز خفتن خان علين مکان په بازار کښې د دهلي سور ته اس يې وترېد ترې پرېوت. پښه يې ډېره ازاره شوه، دا قصيده يې اووئېله".[۶]

دوست محمد خان کامل په کليات خوشحال کښې دې قصيدې ته په حاشيه کښې داسې نوټ ليکلے دے:

"د قېد نه پس په هندوستان کښې چې خان نظر بند ؤ نو په هغه ورځو شپو کښې په وړومبي تاريخ د رجب ۱۰۷۷هـ په دهلي کښې په اس سور تلو چې راپرېوتلو او پښه يې خوږه شوه. په هغه موقعه يې ځلور ورځې پس دا قصيده اووے".[۷]

د رجب ۱۰۷۷هـ پورې د خوشحال بابا قېدوبند په هندوستان کښې يقيني دے. اوس به دې خبرې له راځو چې خوشحال بابا څنګه او کله په مکمله توګه د مغلو د هر قسمه بند نه راخلاص شو او خپل وطن ته راغے. خوشحال بابا پخپله داسې وايي:

لـــــه بګرامـــــه پښـــــې تـــــړلے
هندوســـــتان لـــــره روان شـــــوم
پـــــه دهلـــــي پـــــه رتنبـــــور کښـــــې
دې ځلـــــور کالـــــه حېـــــران شـــــوم

پــه اګــره کښــې مــې پښــې واشــوې
بيــا نــوکر د بــد ســلطان شــوم
د شـــجاع پــه شوروشــر کښــې
خپــل وطــن وتــه روان شــوم[۸]

د شجاع د شوروشر په باره کښې هم د دې شعر په حاشيه کښې ليکي چې:

"له رنتهمبوره د راوتلو او اګره کښې د رهايۍ نه پس خان چې په هندوستان کښې نظربند ؤ نو د اورنګزېب د عهد په لسم کال په اواخر د ۱۰۷۷هـ کښې يوسفزو بغاوت اوکړو. په دې بغاوت کښې يو سړے ؤ چې د هغۀ متعلق دا مشهوره کړې شوې وه چې دا د اورنګزېب ورور شجاع دے. دا بغاوت په څو مياشتو کښې رفع کړے شو. بادشاه خوشحال خان رااوغوښتو او څۀ بحث يې ورسره د پښتونخوا د حالاتو پحقله اوکړو. د سيد امير خان خوافي په ځائے يې مهابت خان د کابل صوبه دار کړو او خوشحال خان يې ورسره هم رخصت کړو. خوشحال خان په ۱۰۷۹هـ کښې وطن ته رااورسېدو. اګر چې خان وطن ته رارسېدو نو د شجاع شوروشر رفع شوے ؤ. خو هر کله چې په دې سلسله کښې خان ته د وطن د راتګ اجازت ورکړے شوے ؤ نو وائي چې د شجاع په شوروشر کښې وطن ته راغلم".[۹]

د دې واقعې په ترڅ کښې او د خوشحال په آزادېدو کښې د نوک او اورۍ تر مېنځه تعلق دے . ځکه يې افضل خان خټک په وضاحت سره ذکر کړے دے:

"شاه شجاع چې د بنګالې په لور ورک شوے ؤ يو شخص د يوسفزو په لورې پېدا شو. دعوىٰ يې وکړه چې زۀ

شجاع یم. یوسفزي عالم چې اوس زبردست دے او هېڅ مدان هم دے. لکه خان علین مکان په سوات نامه کښې وئېلي دي:

هر مغل چې په سوات راشي شهزاده شي
هر سړے یې و منصب ته آماده شي

په بادشاهۍ یې قبول کړ. لښکر یې ورسره وکړ ورغلل د اټک د پرګنې د هزرو په برابر د سیند په غاړه دېره شول. د اطراف او د جوانب الوسات د پښتنو په دا هنګامه ډېر عالم جمع شۀ. د مغل فوځونه هم د اټک فوځدار چې کامل بېګ نومېدۀ د مراد قلي ګکهړ سره راغلل. د سیند په غاړه په مقابله د دوي یې واړول. په سبب د بد تدبیرۍ چې دوي کان د جهل دي یو لور بل لور په شپه ورځ تر سینده پورې نۀ شول. برابر په لښکر پیاده د پورې چې سر د لښکر ورپورې شۀ. بادشاهي فوځونو پرې باندې مټ وکړۀ. هومره په سیند ډوب شول چې حساب کتاب یې نه ؤ. معامله د شجاع بر هم شوه". [۱۰]

په پښتونخوا کښې او د یوسفزو په سیمه چې حالات خراب شو نو شهنشاه هم فکر واخستو چې دا څۀ وجه کېدے شي. د دې وجې معلومولو دپاره یې سترګې په خوشحال بابا ورخښې شوې او په دې سلسله کښې یې دربار ته رااوغوښتو.

"په حضور وۀ دا فتور چې په ملک کښې پېدا شۀ وې بالۀ. بادشاه په حضور وپوښتېدۀ چې دا یوسفزے عالم شاهجهان په وخت د تارعیت وۀ اوس یې څۀ سبب دے چې دا هسې باغي شۀ. دۀ هم وخت بیا موند په غرض د بادشاه یې ورسول چې امیر خان ناکرده کار مغرور دے. اول کۀ د دۀ عقل

وے زۀ د دربو پېړيو خانه زاد بېگناه به يې ولې قيد کوولم. دے همېشه په شرابو کښې غافل وي:

گ چـــه بصـــبوح بـــاد پیوســـت
بـــاده تـــو خـــوری عـــدد شـــود مســـت

مـــرزا عبـــدالرحيم د دۀ ديـــوان دے. تمامـــه ورځ لکـــه هلک چرگ جنگوي. د ديو د کاره بادشاه څۀ اميد لري. کۀ دا صوبه دار څو ورځې نور هم وي لا به فساد زيات شي. بادشاه وفرمائېل چې هسې دے؟ نور يې ورته ووې چې د کوم صوبه دار عمل بئ دے په هغه ملک. دۀ په غرض ورسول چې د مهابت خان عمل بئ دے چې په هندوستان بادشاه گردي شوې وه. دۀ صوبه د کابل بئ اوساتله. بادشاه هغه زمان حکم وکړ چې مهابت چې په گجرات صوبه دار دے فرمان دې وکښې شي چې په تعجيل دې رادرومي او خان علين مکان ته يې وفرمائېل چې دا خبره و هيچا ته مۀ وايه چې مهابت خان رادرومي. په کابل به فساد زيات شي. مهابت خان راغے په غرض يې د بادشاه ورسول چې خوشحال هم د هغه ملک مصالح دے. دې ما سره دې رخصت شي چې درومي بادشاه وفرمائېل چې خوشحال بې گناه ډېر آزار څکولے دے. هغه به يې څۀ په خاطر کښې وي هغه کار کړے بويه چې د دۀ له خاطره هغه ووځي. بيا دۀ په غرض ورسول دا خانه زاد دے. هيڅ يې په خاطر کښې نشته، بادشاه دې ورته خلعت ورکړه نور دې يې رخصت کړه خدمت به کا. بادشاه ووے اختيار لرې..... د مهابت خان سره راروان شو. وطن ته راغے". [11]

افضل خان خټک د خوشحال بابا د قېد او وطن ته د رارسېدو باره کښې لیکي:

"پینځه کاله په قېد په کشاله د اورنګزېب وۀ. فرزندان یې ونه شول. د هجرت چې زر انۀ اویا وۀ له عمدة الملک مهابت خانه سره وطن ته راغے فرحت خان چې مور یې هندوستانۍ وه په لسم د ربیع الاول په سن مذکور تولد شۀ".[۱۲]

په دې اقتباس کښې افضل خان خټک په واضحه توګه د خوشحال په هندوستان کښې د قېدوبند زمانه "پینځۀ" کاله ښودلې ده. او د خوشحال بابا وطن ته د رسېدو نه بعد د ربیع الاول په لسمه د هغۀ زوې فرحت خان هم په دغه کال پېدا شو، اوس دا نۀ ده معلومه چې د کال ۱۰۷۹هـ د ربیع الاول د میاشتې نه څومره مخکښې خوشحال بابا وطن ته رارسېدلے ؤ. او نۀ چرته د میاشتې یا نېټې واضحه ذکر شته نو مونږ د ۱۰۷۹هـ او د افضل خان خټک د بیان په ترڅ کښې پوره پینځۀ کاله د خوشحال بابا د قېدوبند زمانه یادولې شو۔

"د یوې محتاطې اندازې مطابق د خوشحال د پېښور نه تر اګرې پورې د قېد او نظربندۍ موده څلور کاله او نهۀ یا لس میاشتې جوړېږي. هغه په وسط د جمادي الثاني ۱۰۷۴هـ په پېښور کښې ګرفتار کړے شو. د روژې په میاشت ۱۰۷۴هـ کښې ډیلي ته روان کړے شو. هغه د روژې په وسط کښې ډیلي ته اورسولے شو. په رجب ۱۰۷۵هـ کښې د رنتهمبور په قلعه کښې پرې پوخ قېد اوخېژولے شو. هغه د ذي قعدې په پینځم ۱۰۷۶هـ د قلعې نه راکوز کړے شو. او بیا نظربند کړے شو. هغه د رجب په شروع کښې په ډیلي کښې د اسپې نه راپرېوتے دے او پښه یې ډېره سخته ژوبل شوې ده. په ۴ رجب ۱۰۷۷هـ یې په ډیلي کښې یوه قصیده لیکلې ده چې د

پر د پس د ژوند، علالت او نظربندۍ نه يې سخت فرياد کړے دے. بيا څۀ وخت دپاره هغه اګرې ته لېږلے شوے دے. او په اګره کښې بيا پوره طور سره آزاد شوے دے. او د خپل محسن مهابت خان سره وطن ته رالروان شوے دے. کۀ د هغۀ د رهايۍ حکم د کال ۱۰۷۸ هـ په اخري مياشتو کښې شوے وي. نو په دې د عمل کولو او بيا وطن ته په رسېدو به هم درې څلور مياشتې لګېدلې وي. نو ښکاري چې خوشحال به د کال ۱۰۷۹ هـ په وړومبۍ سه ماهي کښې کور ته رارسېدلے وي".[۱۳]

د خوشحال د بابا د ګرفتارۍ او قېدوبند د اسبابو چې د تاريخ کتابونو څومره هم قياسيات ليکلي دي، دغه "قياسيات" صرف قياسيات دي او د حقيقت سره يې هېڅ تعلق نشته. حقيقت دا دے چې خوشحال بابا پخپله وئېلے دے.

پرورده کۀ د مغلو په نمک يم
د اورنګ له جوره هم له غريوه ډک يم
په ناحق يې په زندان کړم يو څو کاله
خدائے خبر دے په خپل ګناه زۀ شک يم[۱۴]

په ناحق د اورنګزېب په بند بندي يم
خدائے خبر دے په تهمت او په بهتان
زۀ په ځان کښې ګناه نۀ وينم په خدائيګو
ولې نور خلق خبرې کا شان شان
د ګناه مې سر رشته نۀ ده معلومه
مګر خپل هنر د ځان وينم تاوان
لکه زۀ ووم په راستۍ په درستۍ کښې
د مغل په خدمت نۀ ؤ بل افغان[۱۵]

خدائے خو خبردار دے کۀ ښکاره نۀ دي په چا
بند یم خلاص دے نۀ شم کۀ دروغ وایم په دا
ځویه مې بند شو له وطنه شوم جلا
څو چارې راوشي نۀ ګناه نۀ مې خطا[۱۶]

دا صرف د خوشحال بابا د خپل ځان د صفایۍ دپاره نۀ وائي بلکې دا خبره شهنشاه اورنګزیب عالمګیر پخپله هم منلې ده چې خوشحال بابا بې ګناه قېد شوے ؤ.

"مهابت خان راغے په غرض یې د بادشاه ورسول چې خوشحال هم د هغه ملک مصالح دے. دې ما سره دې رخصت شي چې درومي. بادشاه وفرمائېل چې خوشحال بې ګناه ډېر آزار څکولے دے. هغه به یې په خاطر کښې وي هغه کار کړے بویه چې د دۀ له خاطره هغه ووځي. بیا دۀ په غرض ورسول دا خانه زار دے. هېڅ یې په خاطر کښې نشته. بادشاه دې ورته خلعت ورکړه نور دې یې رخصت کا خدمت به کا. بادشاه ووے اختیار لرې".[۱۷]

او دغه شان خوشحال بابا نه صرف بې ګناه ثابت شو بلکې بادشاه ته هم د دې خبرې احساس اوشو او راخلاص یې کړو.

د دې پورته تاریخي څېړنې په رڼا کښې مونږ په وثوق سره دې نتیجې ته رسو چې د پېښور د ګرفتارۍ نه واخله تر رنتهمبور د قېد او بیا په اګره کښې نظر بندي او د مهابت خان په سفارش خلاصي او کور ته واپسي پوره پینځه کاله وخت دے.

# حوالې


۱ افضل خان خټک، "تاریخ مرصع"، مقابله، تصحیح او نوټونه، دوست محمد کامل، یونیورسټي بک اېجنسي مئی ۲۰۰۲ ،مخ ۳۴۳.

۲ زېبر حسرت، د خوشحال بابا تاریخ ګوئي، د ادبي دوستانو مرکه مردان، دوېم چاپ یکم ستمبر ۲۰۱۰ء، مخ ۱۱۷

۳ دوست محمد خان کامل مهمند ، "خوشحال خان خٹک سوانح حیات"، شاہین بکس سپوگمے پلازه جمرود روڈ پشاور، دوسرا ایڈیشن ۲۰۰۶،مخ ۱۳۹

۴ هم دغه اثر، مخ ۱۳۹

۵ خوشحال خان خټک، "کلیات"، ترتیب دوست محمد خان کامل، دوېم چاپ ۱۹۲۰ء، اداره اشاعت سرحد پېښور، مخ مخ ۲۱۹ – ۲۲۱

۶ افضل خان خټک، تاریخ مرصع، مخ ۳۴۴

۷ کلیات خوشحال، مخ ۲۱۹

۸ هم دغه اثر، مخ ۸۲۲ – ۸۲۳

۹ کلیات خوشحال، حاشیه، مخ ۳۴۲

۱۰ افضل خان، تاریخ مرصع، مخ ۳۴۲

۱۱ هم دغه اثر، مخ ۳۴۵

۱۲ هم دغه اثر، مخ ۳۱۲

۱۳ ډاکټر اقبال نسیم خټک، "د خوشحال د ګرفتارۍ تحقیقي جائزه"، پشاور یونیورسټي جرنل ۹۷-۱۹۹۲ء ، مخ ۱۴۲

۱۴ کلیات خوشحال، مخ ۵۲۳

۱۵ هم دغه اثر، مخ ۵۷۹

۱۶ هم دغه اثر، مخ ۹۴۲ - ۹۴۳

۱۷ تاریخ مرصع، مخ ۳۴۵